مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۳/۳۰

# سباوون

تورو تیارو ته سباوون غواړمه
خپل ژوندانه لره بدلون غواړمه
قلم، کاغذ او په کتاب پسي ځم
ځمه د پوهي انقلاب پسي ځم!

د درد د ځریکو سودا نه کومه
نور دیدنونه په غلا نه کومه
ډکو جامونو د شراب پسي ځم
ځمه د پوهي انقلاب پسي ځم!

د سپېنو لېچو که ارمان و نه کړم
ګوندي دې لار کي به تاوان و نه کړم
لېچي پرېږدمه په جناب پسي ځم
ځمه د پوهي انقلاب پسي ځم!

په خپلو لاسو خپل جنت جوړوم
ښکلی وطن په صداقت جوړوم
تیاره به ماته کړم، آفتاب پسي ځم
ځمه د پوهي انقلاب پسي ځم!

هر مرور به را پخلا کرمه زه
رانه ناراضه به رضا کرمه زه
نور د ګناه په ځای ثواب پسي ځم
ځمه د پوهي انقلاب پسي ځم!

مصطفی پسرلی
28/03/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ